# دافغانستان جمهوري رياست دټولټاکنوپه اړه
# دافغانستان دآینده غورځنګ اعلاميه

## ۱۳۸۸غويی ۹ ۲۰۰ مې

له څه مهال را هيسې دافغانستان هېوادمېشرئ (جمهوري رياست) دټولټاکنو په اړه يو وګړ دروهی (عوامفريبانه ) بهير پيل شوی. دناټو ـ امريکا ستراتېژي او دکابل واکمنی په چوپړ کې رسنئ مرګوني (مذبوحانه ) هلې ځلې کوي چې دغه ټولټاکنيز بهير، په هېواد کې ديوې سياسي او برخليک ټاکي پېښې په توګه را وپېژني او دولسواکئ دټينګښت لپاره يې يوازينی بنسټ وبولي . دا فغانستان آينده غورځنګ دافغانستان هېواد مشرئ(جمهوري رياست) د ټولټاکنو په تړاو د کينو ، پرمختللو ، ولسواکو او سوله پالو ځواکونو له خوا د يوه ټوليز دريځ د راخپلوني لپاره خپلې شنني او ليد توګې په لنډه توګه د افغانستان وګړو، پرمختلليو ځواکونو ، دغورځنګ ملګرو او دوستانو مخې ته ږدي :

۱ ـ په افغانستان کې د ناټو – امريکاسياسي – نظامي ستراتيژي، په ښکاره ډول له القاعده او طالبواکئ سره د جګړې، دترهګري مرکزونو ترنې ، د نشه يی توکيو د کر او قاچاق بندونې ، ديو سياسی نظام پر کچ د ډېموکراسئ منځته راوړنې او د يوه ولسواک دولت جوړونې،دډېموکراتيکو ازاديو پلې کېدنې ، د نوي لېبرالېستي ازاد بازار او وتيزاوډون(اقتصادي نظام) د ټينګونې، دهېواد وتيز پرمختګ ، د بېوزلئ او پسمانئ د جرړو ابستنې ، ديو برابروالي دآر پر بنسټ او د بشر درښتو(حقوقو) له منشور سره سم د وګړو رښتوپه سمبالتيا کې دنياومنو قانونو دجوړونې، د اند او وينا د ازادئ ، په ټولنيز ژوند کې د ښځو ګډون او نورو لسګونو آرونو په موخه سازمان شوې وه. دافغاني ټولنې اووکلنې ترخې پېښې ددې لووې (شاهدې) دي چې له پورتنيو وړاندې کړ شويو اډانو(طرحو)څخه يوه هم ترسره شوې نه ده، بلکې پرځای يې د افغانستان د ولسي وګړو مرګ ژوبله زياته شوه،جګړو زور و اخېست، دناټو پوځي لاسوهنو زياتون وموند، د جهاديانو او ټوپکمارو ټلواليزه زورواکي( دېکتاتوري) پر مخ ولاړه ، ټولنوتيز وروسته پاتي والي ژور شو ، کډوالي ډېره شوه ، دمنځنيو پېړيو توراندي، دنشه يی توکيو روږدېدنه پراخه شوه ، لوږ او انساني دوديز ارزښتونه له منځه ولاړل ، اداري فسادريښې وغځولې ، او په لسګونو نور ټولنيز ناوړينونه راوزېږېدل..

۲ ـــ د ناټو – امريکا دسياسي رغښتي(ماهيت ) پورې تړلی او سنی سياسي نظام له آره يو ه داسي پټه پوښلې ديکتاتوري او غوړولی جال دی چې د امريکا د بهرنيو چارو دوزېرې په وينا يو « نارکو – دولت »يا

( دنشه یی توکیو دولت ) رانغاړي او رښتینی واک د جهادي-طالبي زورواکانو ، شتمنو او لوړپوړو خوسا او بېروکراتیکو کړیو ، دنشه يي توکیو مافیاوو او انجو ګانوپه لاس کې پروت دی ، چې په ټولیز ډول د سیمې دهېوادونو او بهرنیو زورپالو څانګو په ملګرتیاکار کوي . رښتینې دېموکراسي چېدهغه دکړنو له لارې د خلکو ریښتینې غوښتنې د ځواک په ډګر کې څرګندې کړای شي ، د افغانستان د پرمختللي کینې او دېموکراتیک غورځنګ همېشنۍ هیله ده چې د افغانستان آینده غورځنګ په پر له پېيلې توګه د هغه دپلي کولو په لاره کې جګړه کوي . په خواشینۍ سره دهېواد په نني ګډوډ( انارشیک )جوړښت کې دخلکو دهیلو دڅرګندونو اودېرګنو د غوښتنو د پلي کولو کومه شونتیا نشته ؛

۳ـ رښتینې ټولټاکنې دلاندې آرونو غوښتونکي دي :

دبهرنیو ځواکونو نه لاسو هنه ؛

پر نیاومنو قانونو باندې ولاړ، یو دېموکراتیک دولت ؛

دوګړو د رښتو اندولتیاچې دقانون له خوایې ژمندويي(ضمانت) شوی وي ؛

په آزادوخبرو اترو او اند څرګندونه کې دګډون شونتیا؛

دسوله ییزو آرونو رامنځته کول، له مذهبي ، پوځي، وټیزو ،ټبريزو(قومي) او نوړیز و(جنسي) سرزور یو نشتون؛

په ټولټاکنو کې دټولوګډونوالو له خوا د ټاکنیز بهیر بې پرې څارنه او له بېلابېلو لارو درایو دپېروپلور مخنیوی .

ټولو ته څرګنده ده چې افغانستان نن ورځ ددغو آرونو له شتون څخه بې برخې دی. هغه نوماند (کاندید)

به هېواد مشریزه څوکۍ ترلاسه کړي چې د امریکا ــ ناټوله پلوۍ څخه برخمن وي ، د هېواد وسله وال ځواکونه یې له غورو وسله والواو مافیایي جالیو سره په څنګ کې وي ،خپل ټبریز تړاو د هېواد دپایښت د ژمندويی په توګه د ټولو په سترګوکې ننباسي، د امریکا-ناټو شونتیاوې ، دنشه يي توکیو مافیا، د شتمنو نوی پوړ او ستر تبلیغاتي اوزار یې په چوپړ کې وي او دخپلو انګروزو (تبلیغاتو) لپاره له دولتي شونتیاوو څخه کار واخلي .

له یوې خوا څخه بی ټیکاوي ، نا امني، بېوزلي، روږدتیا او ناروغتیا چې د تېر جمهوري پېر له ټاکنو را هیسې یې په هېواد کې زور اخیستی اوبلخوا وار له مخه دټولټاکنو پایلې ډاګیزوالی، په دغه اړه د خلکو ترمنځ د نه باور دلوښې(روحیې)د منځته راتګ لامل شوی او پر دې پوره باوري دي چې د ټولټاکنو پایله به یې په ژوند کې هیڅ کوم بدلون رانه ولي ، او له همدې کبله به له دې بهیره ځان لرې ساتي ؛

۴ ــ سره له دې پرمختللي ځواکونه لا تر اوسه نه دي توانېدلي چې د يوه پرمختللي سياسي وسټل(پلاتفورم) پر بنسټ يوه ټوليز سياسي جوړښت ته لار وهومي ، خو بيا هم د وروستيو څو مياشتو شننې،دريځ نيونې او هاند و هڅې ددې لووې دي چې د دغو ځواكونو ډېرى برخې په يوه سراسري سازمان كې د يو والي اړتيا ښه ترانګېرلې ده .

دداسې يوه سازمان جوړېدل چې په سياسي اكر بكركې د ټولنې د زياركښو او اسكېرلو پركنو استازيتوب وكړاى شي ، دخلكو په ګټه د سياسي بلونج(بديل) درامنځته كېدو له لومړنيو آرونو څخه ګڼل كېږي .

دهېواد په اساسي قانو ن كې دارويېچ( تناقض) شتون او دهغه د دېموكراتيكو او نړيوالو ارزښتونوتر پښو لاندې كول ،پر هېواد باندې د واكمنو ارتجاعي قانونو او كړنلارو را منځته كول ، يو له هغو سترو خنډونو څخه دى چې دآرو او رښتينو پرمختللو او ولسواكو ځواكونو دراڅرګندتيا او په يوه يوازېنې جوړښت كې يې د راغونډېدا مخه ور ډب كړې ده ، نور هغه مهال را رسېدلى چې له دغو خنډونو څخه ورتېر شو او دكار په نړى پورې د يوه ترلي لوى سازمان په جوړولو لاس پورې كړو .خو په اوسني اكر كې هيڅ يو داسې بلونج چې وكړاى شي د خلكو غوښتنې تر سره كاندې ، نه دي رامنځته شوى ؛ يانې له سياسي لوري د اوسنى واكمنى د رغښت( ماهيت )بدلون نا شونى دى ؛

۵ ــ له هغه ځايه چې كيڼ ، دېموكرات او پر مختللي ځواكونه په دې نه دي توانيدلي چې دنظام لپاره يو رښتينى بلونج را منځته كړي، نو د هېوادمشرى په روانو ټولټاكنو كې ګډون به ، د اوسني نظام د منښت په مانا ، له منځنيو پېړيو ارتجاعي ځواكونو سره غاړه غړى كېدل او دناټو- امريكا او اړوندسيمه ييز پيوستون پروژو ته چوپړ دى .

د«دېموكراتيک غورځنګ پياوړيتوب لپاره په ټو لټاكنو كې دګډون » شعار له افغاني ټولنې اوسني اكر سره سمون نه لري او كه چېرې سياسي تېروتنه نه وي، خو په هره توګه داوسنى واكمنې شاتكپالي( ارتجاع) د پياوړي كېدو پر لوري يووګړ دروهى چار دى .
***دهېواد رښتينى كيڼ او دېموكراتيک غورځنګ دافغانستان جمهوري رياست په ټولټاكنو كې هيڅ يو نوماند نه دى ورپيژندلى .***

دهېواد دېموكراتيک غورځنګ تر نامه لاندې د سازمانونو او وګړو خپلسري كړه وړه به يوازې له يوې پټې معاملې څخه پرته كومه بله مانا ونه لري . هغه وګړي او ياهم سازمانونه به چې په داسې اكر كې د كيڼ او دېموكراتيک غورځنګ په استازيتوب په ټولټاكنو كې ګډون كوي ، د لويې ماتې پړه پر غاړ ه واخلي او د افغاني كيڼ غورځنګ تاريخي اكر وكر(وجاهت ) ته به زيان ورسوي .

دافغانستان آينده غورځنګ پر دې باور دى چې دافغانستان دېموكراتيک ځواک دنده لري،- دجمهوري رياست له روان ټولټاكنو څخه په ګټې سره ــ دالاندې لوري او شعارونه

د خپلې جگړه ییز ې کړنلارې په توگه وړاندې کړي ، چې له اوسنیو سیاسي شونتیاوو او چاپېریال څخه په گټه اخېستنه دهېواد دیوې لویې اغېزمنې، کارندې(فعالې) او خوځندې( دینامیکې) برخې پاملرنه د هېواد بنسټیزو ربړو(مسئلو) لوري ته واړوي :

۱ ـ په ټولټاکنو کې د**کارنده نه گډون** کړنلارې په غوراوي او له روانو تبلیغاتي شونتیاووڅخه په گټه اخېستنه ،پرهېواد باندې د اوسني واکمن نظام خوسا، ملي ضد ، ازادي ضد ، دسیاسي خپلواکي ضد ، فرهنگي ضد ، دېموکرتیک ضد او ارتجاع رغښتی څرگند کړي ؛ دا ځکه چې په اوسنیو ټولټاکنو کې چې پایله یې وار له مخه څرگنده ده، د ټولو نوماندانو لپاره یوشان او یو برابر شونتیاوې برابرول د واکمني وگړ دروهي ډلې یوه هسې انگروزه(تبلیغ) دی.

په ټولټاکنو کې گډون به یوازې د لاسپوڅې، خوسا،اوناکاره واکمنۍ د قانونوالي لامل شي . بلخوا هرڅومره چې په رای اچونو کې د گډونوالو د گډون کچه ټیټه وي، تر هماغې کچې پورې به د اوسني واکمن سیاسي نظام او له هغه سره به یې وگړني ضد منځپانگه(ماهیت) او دناټو ستراتیژی نوره هم را بربنده شي ؛

۲ ـ خلک باید د دېموکراتیکوا و پرمختللیوسیاسي جوړښتونو پاملرنه په ټولټاکنوکې د نه گډون پر لوري ورسیخ کاندې او هغه ټولټاکنې پدل(تحریم) کړي چې دجمهوري ریاست پرگدۍ باندې یوځل بیا د کرزي او یا دهغه د بل کوم هملاسي دپاتېدو لامل شي .

۳ ـ له وخته په گټه د دېموکراتیکو جوړښتونو د غونډ و په جوړولو، د هېواد د پرمختللي غورځنگ دیو والي او په یوه لوی پراخ سازمان کې یې دراتولېدنې چارې دې د یوې بنسټیزې ربړې(مسئالې) په توگه وړاندې اوپر همدې تگلوري د رغنده نوښتونو ملاتړ وکړي ؛

۴ ـ له واکمني ډلې او بهرنیو ځواکونو سره د بېلارو ( منحرفو) پټو او څرگندو معاملوپه بربنډولو سره دهغوي په گوښې کولواو شړلو کې ( چې په بې شرمی سره لا هم ځانونه د هېواد د دېموکراتیک او کیڼ غورځنگ په کورنۍ پورې تړلي بولي )برخه واخلي ؛

۵ ـ د خلکو رښتینې غوښتنې دې دټولنې د بنسټیز و چارو په توگه دخبرو اترو او سیاسي خپرنیزو خبرو اترو پر منځټکي واړوي .

## د افغانستان آینده غورځنگ